تا ته د دوو رڼاګانو زېرى دى چې در کړل شوي، پداسې حال کې ستا څخه وړاندې هېڅ نبي ته نه دې ورکړل شوي: فاتحة الکتاب (فاتحه سورت) او د البقرې سورت وروستي آيتونه دي چې تاته به د دې د هر يو حرف په ويلو سره درکول کېږي

له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دى وايي چې: «په داسې حال کې چې جبرائيل عليه السلام د نبي سره ناست و چې له پاسه يې يو غږ واورېد، نو سر يې پورته کړ او ويې ويل: دا د اسمان يوه دروازه ده چې نن خلاصه شوه، تر دې مخکې هېڅکله نه وه خلاصه شوې، له هغې څخه يوه ملايکه راکوزه شوه، ويې ويل: دا هغه ملايکه ده چې نن ځمکې ته راکښته شوه، تر دې مخکې هېڅکله نه وه راښکته شوې، نو سلام يې وکړ او ويې ويل: تا ته د دوو رڼاګانو زېرى دى چې در کړل شوي، پداسې حال کې ستا څخه وړاندې هېڅ نبي ته نه دې ورکړل شوي: فاتحة الکتاب (فاتحه سورت) او د البقرې سورت وروستي آيتونه دي چې تاته به د دې د هر يو حرف په ويلو سره درکول کېږي.»

[صحيح دى] [مسلم روايت کړى دى]

جبرائيل عليه السلام د نبي تر څنګ ناست و، نو له اسمانه يې داسې غږ واورېد لکه د دروازې د پرانيستل کېدو، بيا يې سر پورته کړ او اسمان ته يې وکتل، بيا نبي وويل چې دا د اسمان يوه دروازه ده چې نن پرانيستل شوه، مخکې لدې هېڅکله نه وه پرانيستل شوې، له هغې څخه يوه ملايکه ځمکې ته راکښته شوه چې تر دې مخکې هېڅکله نه وه راغلې، هغې ملايکې په نبي صلى الله عليه وسلم سلام واچاوه او ورته يې وويل: تاته دې د دوو رڼا ګانو زېرى مبارک وي، چې تر تا مخکې هېڅ نبي ته نه دي ورکړل شوي؛ هغه دواړه: سورت الفاتحة او بل د سورة البقرې وروستي دوه آيتونه دي. بيا ملايکې وويل: هېڅوک له دې دواړو څخه يو حرف نه لولي مګر دا چې الله تعالى به پرې ورته هغه خبر دعا او غوښتنه ورکوي چې پدې کې دي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5775